AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de
افغان جرمن آنلاین

مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالوحید وحید

۲۰۲۶/۰۶/۰۱

# له روسيې سره د افغانستان اړيکې

## فرصتونه او ننګونې

د روسيې او افغانستان ترمنځ د وروستيو اړيکو پراختيا بايد يوازې د دوو هېوادونو ترمنځ د عادي ډيپلوماتيک تعامل په توګه ونه ارزول شي، بلکې د روسيې په نوښت دغه نوی رامنځته شوی او پراخيدونکی تحول د سيمې او نړۍ په کچه د بدلېدونکو جيوپوليټيکي، جيوستراتيژيکي او جيو اقتصادي معادلو په چوکاټ کې د پام وړ اهميت لري. له افغانستان څخه د امريکا له وتلو وروسته دغه هېواد د نړيوالو او سيمه‌ييزو ځواکمنو هېوادونو د نويو محاسباتو يوه برخه ګرزيدلې او روسيه هڅه کوي چې د مرکزي اسيا د امنيت، د سويلي اسيا د اتصال او د لويديځو هيوادونو د نفوذ محدودولو په برخه کې خپل رول پياوړی کړي. له همدې امله، مسکو له کابل سره د اړيکو د پراخولو له لارې غواړي هم خپلې امنيتي اندېښنې مديريت کړي او هم په يوه ارزښتناک جغرافيايي موقعيت کې خپل حضور وساتي.

له جيوستراتيژيک پلوه، افغانستان د روسيې لپاره د مرکزي اسيا د امنيتي کمربند يوه مهمه برخه ګڼل کېږي. د داعش خراسان فعاليتونه، د افراطي ډلو احتمالي پرمختګونه، د نشه يي توکو قاچاق او د منځنۍ اسيا جمهوريتونو امنيت هغه موضوعات دي چې د روسيې په ستراتيژيکو محاسباتو کې مهم ځای لري. مسکو په دې باور دی چې له کابل سره عملي تعامل د امنيتي خلا رامنځته کيدو او بې‌ثباتي د پراخېدو مخه نيولای شي. په ورته وخت کې افغانستان هم هڅه کوي چې د نړيوالې انزوا له حالت څخه راووزي او له ځواکمنو هېوادونو سره د اړيکو له لارې خپلې سياسي او اقتصادي اړتياوې پوره کړي.

له اقتصادي اړخه، دواړه هېوادونه د متقابلو ګټو فرصتونهويني. روسيه د انرژي، نفتو، غنمو او سوداګرۍ په برخه کې مهم ظرفيتونه لري، په داسې حال کې چې افغانستان د مرکزي اسيا، روسيې، جنوبي اسيا او منځني ختيځ ترمنځ د اتصال يوه طبيعي څلورلاره ده. که مناسب امنيتي او سياسي شرايط رامنځته شي، نو شک نشته چې افغانستان د سيمه‌ييزو ترانزيټي او سوداګريزو دهلېزونو په يوه مهم محور بدليدای شي. په همدغه دليل، د روسيې او افغانستان اړيکې يوازې د سياسي نړېوالي موضوع نه ده، بلکې د اقتصادي اتصال او سيمه‌ييزو بازارونو د پراختيا ليدلوري پربنسټ هم ستر اهميت لري.

د دغو پرمختګونو په وړاندې د لويديځ غبرګون تر ډېره محتاط دی. لويديځ هېوادونه اندېښنه لري چې د روسيې نفوذ به په افغانستان کې پراخ شي او مسکو به وکولای شي د افغانستان له لارې خپل سيمه‌ييز او نړيوال دريځ پياوړی کړي. البته په عين وخت کې امريکا او نوره لويديځه نړۍ درک کوي چې افغانستان د بشپړې انزوا له لارې نشي اداره کېدای او سيمه‌ييز قدرتونه به په هر صورت خپل تعاملات له کابل سره پرمخ وړي.

چين عموماً دغه تحول ته په مثبت نظر ګوري، ځکه د افغانستان ثبات د چين د اقتصادي او امنيتي محاسباتو يوه مهمه برخه ده. ايران هم ممکن د سيمه‌ييز ثبات او اقتصادي اتصال په موخه د روسيې او افغانستان د نږدېوالي هرکلی وکړي، خو  هڅه به وکړي چې د نفوذ توازن وساتل شي. پاکستان او د مرکزي اسيا هېوادونه هم دغه وضعيت له نږدې څاري؛ هغوی ممکن د ديپلوماسي په چوکاټ کې د اقتصادي فرصتونو او ثبات هرکلی وکړي، خو له بلې خوا د هغوی د خپل تعبير له مخې د خپلو امنيتي او ستراتيژيکو ګټو د خوندي ساتلو ترعنوان لاندې څه ملاحظات ولري.

په دغه شان حساسو شرايطو کې د افغانستان لپاره تر ټولو مهمه اړتيا د انډوليز او څو اړخيز بهرني سياست تعقيبول دي. د افغانستان معاصر تاريخ ښيي چې کله دغه هېواد د کوم ځانګړي نړيوال يا سيمه‌ييز محور برخه ګرزيدلې، نو ډېر ځله د قدرتونو ترمنځ د رقابتونو او نيابتي سياليو ډګر ګرزېدلی دی. له همدې امله، د کابل واکمنان بايد  له روسيې سره د اړيکو د پراختيا ترڅنګ له چين، ايران، پاکستان، د مرکزي اسيا هېوادونو، خليجي دولتونو او حتی له لويديځ



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ  maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

سره، نه یوازې دا چې د تعامل دروازې پرانیستې وساتي، بلکې په عملي ډګر کې په دغه استقامت رغنده ګامونه پورته کړي. د متوازن سیاست موخه دا نه ده چې ټول اړخونه خوشحاله وساتل شي، بلکې دا ده چې افغانستان د قدرتونو ترمنځ د رقابتونو پر ځای د همکاریو او اتصال په نقطه بدل شي.

افغانستان له انزوا څخه د راوتلو په موخه د خپلو ملي ګټو په چوکاټ کې له ولس او نړیوالې ټولنې سره په اړیکو جوړولو کې د انعطافي دریز خپلولو لپاره خورا پراخ ډګر لري. ګڼ اړخیزه ډیپلوماسي په عملي ډول دا معنا لري چې افغانستان خپلې اړیکې یوازې په دوه اړخیزو مناسباتو پورې محدودې نه کړي، بلکې په سیمه‌ییزو او نړیوالو چوکاټونو کې هم فعاله ونډه ولري. له روسیې سره د انرژي او سوداګرۍ په برخه کې همکاري، له چین سره د زیربناوو او پانګونې پروژې، له ایران سره د ترانزیټ او سوداګرۍ پراختیا، له پاکستان او مرکزي اسیا سره د اقتصادي دهلېزونو جوړول، او له خلیجي هېوادونو سره د پانګونې او مالي همکاریو پراخول د همدغې تګلارې برخه کېدای شي. همدارنګه د شانګهای د همکاریو سازمان په ګډون له نورو نړیوالو سیاسي او اقتصادي سازمانونو سره فعال تعامل افغانستان ته دا فرصت ورکوي چې خپلې ګټې د یوه ځواکمن اړخ پر ځای د څو اړخیزو چوکاټونو له لارې ترتیب او تعقیب کړي.

د افغانستان د بهرني سیاست بنسټ باید پر څلورو اصولو ولاړ وي: نه محوریت، اقتصاد محوره تګلاره، متوازن تعامل، او د اتصال رول باندې تمرکز کول. هېواد باید د هېڅ نړیوال بلاک یا داسې سیاسي محور ټړون برخه نه شي چې مقابل اړخ غبرګون ته وپاروي، بلکې له ټولو ځواکمنو هېوادونو سره د خپلو ملي ګټو پر بنسټ اړیکې تنظیم کړي.

که موږ غواړو چې افغانستان د سترو ځواکمنو هېوادونو ترمنځ د رقابتونو ډګر نشي، نو بهرنی سیاست باید د ملي ګټو په چوکاټ کې له اقتصادي موخو لکه سوداګري، ترانزیټ، انرژي او پانګونې سره تړاو لري ولري. په عین وخت کې له یوه لورې سره د اړیکو پراختیا باید د بل لوري د اندېښنو لامل نشي. افغانستان کولای شي خپل جغرافیایي موقعیت د ګاوندیانو او زبرځواکونو ترمنځ د سیالي د کربښې پر ځای د اقتصادي اتصال په څلورلارې ته بدل کړي ترڅو د مرکزي اسیا، جنوبي اسیا، روسیې، چین او منځني ختیځ ترمنځ د اقتصادي اړیکو جوړولو لپاره د اسانتیاو رامنځته کوونکي هېواد رول ولوبوي.

که په پایله باندې راوګرزو نو د روسیې او افغانستان د اړیکو پراختیا کابل ته مهم فرصت برابروي، خو دا فرصت هغه وخت ستراتیژیکه لاسته راوړنه کېدای شي چې افغانستان له احساساتي یا یو اړخ محوره سیاست څخه ډډه وکړي او د ملي ګټو پر بنسټ متوازنه او څو اړخیزه ډیپلوماسي پرمخ یوسي. د افغانستان اصلي بریا به په دې کې نه وي چې د کوم ځواکمن هېواد نږدې متحد شي، بلکې په دې کې ده چې له روسیې، چین، ایران، پاکستان، خلیجي هېوادونو، مرکزي اسیا او لویدیځ سره د متوازنو اړیکو په ساتلو خپل موقعیت د رقابت له ډګر څخه د اقتصادي اتصال، سیمه‌ییز ثبات او متقابلو ګټو په مرکز بدل کړي. دغه تګلاره کولای شي افغانستان د اوږدمهاله ثبات، اقتصادي ودې او ستراتیژیک ارزښت پر لور رهبري کړي.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ